مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

ډاکټر لودویګ آدمک
ترجمه: رحمت آریا

۲۰۲۶/۰۳/۲۳

# د افغانستان بایوګرافیکي قاموس
# دوهم ټوک
## (دوه وشتمه برخه)

### شهزادګۍ بلقیس

د پخواني پادشاه محمد ظاهر شاه مشره لور په ۱۹۳۲ز کال کې زېږېدلې ده. په فرانسه کې ئې تحصیلات تر سره کړي دي. د «انجمن رضاکاران نسوان» افتخاري رئیسه. د ایران د مرحوم شاه په بلنه ئې له خپل خاوند سره یو ځای د اعلیحضرت ظاهر شاه په استازیتوب د فارسي سترواکۍ په ۲۵۰۰ کلیزې کې ګډون وکړ. د سنت جمیز په دربار کې له خپل پلار ظاهر شاه سره د سلطنتي کتنې پرمهال د سفر ملګرې وه. له ۱۹۷۳ز کال راوروسته په روم کې ژوند کوي.

(د مارشال شاه ولي د زوی) جنرال عبدالولي مېرمن او درې لوڼي لري: مینه، وانه او حمیرا. *

### شهزادګۍ بلقیس

د اعلیحضرت نادر خان (له ۱۹۲۹تر ۱۹۳۳ ز پورې د افغانستان د پادشاه) لور او د پخواني پادشاه محمد ظاهر خور. د ولسمشر محمد داؤود د کورنۍ له نورو غړو سره یو ځای د ارګ په ډزو کې ووژل سوه. تیمورشاه آصفي ته وادهٔ سوې وه.

### سید احمد طاهر بینا

په ۱۸۶۹ز کال کې د میمنې په جمشیدي کې زېږېدلی دئ. خصوصي او په محاسبې کې ئې زده کړې وې. شاعر. د ۱۹۸۶ز کال د اکتوبر په میاشت کې وفات سو.

### سید محمد طاهر بینا

د ۱۹۴۰ز کال په شاو خواوو کې زېږېدلی دئ. د ننګرهار د اداري ځانګي رسمي مأمور. په ۱۹۵۸ز کال کې د راډیو افغانستان د موسیقي د ځانګې رسمي مأمور. په ۱۹۶۱ز کال کې د اطلاعاتو او کلتور د وزارت روزل سوی عکاس. په جلال آباد کې د ننګرهار د لرغونتون/ موزیم مشر. لیکوال او شاعر. د ۱۹۸۶ز کال د اکتوبر په میاشت کې وفات سو.

[په زړهٔ پورې ده چې سید احمد طاهر بینا چې پورته یاد سو په همدې میاشت او کال کې وفات سوی دئ. – ژ]

### محمد انور بسمل

د نظر محمد سفر زوی (او د محمد ابراهیم صفا ورور) په ۱۹۰۸ز کال کې په کابل کې زېږېدلی دئ. تحصیلات ئې په کور او د حبیبیې په لیسې کې کړي دي. د قطغن او بدخشان مرستیال والي. د ۱۹۳۰ز لسیزې په لومړیو کې د افغان


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په ځیر و لولئ

ادبي ټولني مشر. د «جوانان افغانستان» په نوم د يوې مخفي ټولني غړی. د صدراعظم محمد هاشم خان په وسيلې زنداني سو. د معارف د رياست غړی. د کابل د مرستون او دارالايتامو د رياست رئيس. د مشرانو جرگې غړی. شاعر. مورنۍ ژبه ئـې دري ده. وفات سوی دئ.

## عبدالغفور برشنا

د ‹محمدزي› امير محمد زوی په ۱۹۰۷ز کال کي زېږېدلی دئ. تر اتم ټولگي پوري ئـې د حبيبيې په ښوونځي کي درس لوستی چي د هغـهٔ مهال د ښوونځي وروستی ټولگی وو. په برلين، ميونيخ او ليپزيک کي ئـې د ښکلو او ظريفه هنرونو په ښوونځيو کي تحصيل کړی دئ او په ۱۹۲۹ز کال کي له خپلي جرمنی مېرمني سره کابل ته راستون سو. په افغان نقاشانو کي زښت ډېر مشهور نقاش. د خپلو هنري آثارو نندارتون ئـې په افغانستان، هندوستان، د مصر په عربي جمهوريت او ايران کي وړاندې کړي دي. نوموړی يو ماهر موسيقي پوه، کمپوزر او ډرامه ليکونکی وو. په ۱۹۳۳ز کال کي د غلام محمد ميمنگي پر ځای د کابل د ښکليو هنرونو د ښوونځي مدير سو. د نجات د ښوونځي د ښکليو هنرونو او د لاسي صنايعو د هنرونو مدير. په ټول افغانستان کي د ښکليو هنرونو د ټولو ښوونځيو رئيس. د دولتي مطبوعاتو مشر. د راډيو افغانستان رئيس. په تهران کي کلتوري اتشه. د معارف د وزارت سلاکار. د افغانستان د «لومړي ــ ژ» جمهوريت ملي سرود ئـې کمپوز کړ. د برشنا وروستی هنري کار چي د افغان فلوکلور د ټولني له پلوه خپور سو د داستانونو يوه ټولگه وه چي ددهٔ خپله رسامي ورسره ملگرې وه. د ۱۹۷۴ز کال د جنورۍ په څلورمي نېټې وفات سو.

## عبدالله برشنا

د عبدالغفور برشنا زوی په ۱۹۳۳ز کال کي زېږېدلی دئ. په جرمني کي ئـې تحصيلات وکړل او مشهور ودانۍ جوړوونکی سو. د ودانيزو چارو د دستگاه رئيس. د ښاري پلان جوړوني رئيس. د فوائد عامې په وزارت کي د ښارگوټو او ودانيو جوړولو رئيس. له مېرمن شيما سره ئـې وادهٔ کړی دئ. مورنۍ ژبې ئـې جرمني او دري دي. له ۱۹۸۱زکال راهيسي په جرمني کي اوســېږي.

## نيک احمد بلبل

د سرخرود د بالاباغ د ملا مير احمد زوی، په ۱۹۰۴ز کال کي زېږېدلی دئ. عربي علوم ئـې په پېښور او کوهاټ کي لوستي دي. په ننگرهار کي ښوونکی. شاعر.

## سيد کاظم بلبل

د سيد شاه بقا زوی په ۱۸۸۲ز کال کي د کابل په مراد خانيو کي زېږېدلی دئ. په ۱۴ کلنی کي ئـې له خپل مشر ورور سره سفر وکړ. ۲۰ کلن وو چي بېرته افغانستان ته راستون سو. شاعر. په ۱۹۴۲ز کال کي وفات سو.

## محمد عمر بلبلِ افغان

د بهادر خان زوی په ۱۸۸۷ز کال کي په لالپورې کي زېږېدلی دئ. په عربي، پارسي او اردو کي ئـې خصوصي زده کړې ترسره کړي دي. د خپلواکی د جگړې «بزمي شعر» ئـې وواية او په همدې پار ئـې د افغان بلبل يا بلبلِ افغان لقب


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينگه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکي په ځير و لولئ

وګاټـۀ. سرحدي پولیس، وروسته د کورنیو چارو وزارت ته راغی. د یوې مودې لپاره سیاسي بندي وو. د ۱۹۶۴ز کال د لویې جرګې غړی. په همدې کال کې د سنا غړی. په ۱۹۶۷ز کال کې وفات سو.

## یاسین بنیادي

په ۱۹۴۵ز کال کې د لوګر په بره کې راجان کې زېږېدلی دئ. په ۱۹۵۱ز کال کې د بره کې راجان په لومړني ښوونځي کې شامل سوی دئ. په ۱۹۵۷ز کال د ابن سینا لیسي کې شامل سوی دئ. په ۱۹۶۰ز کال کې د کرني په لیسي کې شامل سو. په ۱۹۶۶ز کال کې د کرني له پوهنځي څخه فارغ سوی دئ. په ۱۹۶۸ز کال کې په دارالعملعمینو کې ئـې د استاد په توګه کار وکړ. په ۱۹۷۰ز کال کې د عبدالحی ګردیزي د لیسي ښوونکی. په ۱۹۷۱ز کال کې د محمود طرزي د لیسي ښوونکی. په ۱۹۷۳ز کال کې د هلمند د کرني د لیسي ښوونکی. په ۱۹۷۴ز کال کې د روزګان د مرکز په ولسوالی کې د شاه زمان په لیسي کې ښوونکی. په ۱۹۷۵ز کال کې د خوشحال خان د لیسي ښوونکی. په ۱۹۷۵ز کال کې د معارف د وزارت د ابتدائیه تدریساتو د ریاست غړی. دی یو خلقی دئ چې په ۱۹۷۸ز کال کې د معارف د وزارت مرستیال وزیر سو. د ۱۹۷۸ز کال د دسمبر په میاشت کې په پراګ کې د ببرک کارمل پر ځای افغان سفیر. د خلق د مرکزي کمیټي غړی. د انقلابي شورى غړی. په ۱۹۸۰ز کال کې کله چې پرچمي حکومت راغی دی له کاره وشړل سو. په انګلیسي خبرې کوي، وادۀ ئـې کړی او درې لوڼي او پینځـۀ زامن لري.

## میرزا محمد مهدي چنداولي

د مهدي جان په نوم هم شهرت لري. دی د چنداول دئ. د اعلیحضرت امان الله خان شخصي سکرتر او ټیلي ګرافر. د نادر خان د سلطنت پر مهال له امان الله سره په اړیکه کې پاتي سو. د چرخي د کورنی ملګری. په ۱۹۳۳ز کال کې د برتانیې په سفارت کې د عظیم په قتل کې د لاس لرلو په تور د ۳۷ کلنی په عمر زندی/ غرغره سو. یو زوی ئـې د خلقي واکمنی پر مهال ووژل سو او بل زوی ئـې آصف آهنګ د افغان نساجي کمپنی مرستیال رئـیس دئ.

## ډاکټر محمد عثمان دفتري

د محمد حسین دفتري زوی، په ۱۹۳۵زکال کې په کابل کې زېږېدلی دئ. په ۱۹۵۳ کې د نجات له لیسي او په ۱۹۵۷ز کال کې د حقوقو له پوهنځي څخه فارغ سوی دئ. په ۱۹۶۶ز کال کې ئـې خپله دکتورا د "فریبرګ" [1] له پوهنتون څخه تر لاسه کړه. وروستـنی دنده ئـې په تهران کې دیپلوماتیکه دنده وه. د ملکي حمیرا له ناسکه خور لیلا آصفي سره ئـې وادۀ کړی دئ. له ۱۹۸۰ز کال راپه دېخوا د جرمني په فریبرګ کې ژوند کوي.

## نور محمد دلیلي

د دین محمد زوی. د افغان هوایي چلند د میترولوژی د دیپارتمنت دایرکټر جنرال. له ۱۹۶۲ تر ۱۹۶۴ز کال پورې د "نارث رپ انستیتیوت آف ټکنالوژي" [2] کې په "الکترونیکس مین تي نینس" [3] کې روزل سوی دئ.

[1] -Freiburg University
[2] -Northrup Institute of Technology
[3] -Electronics Maintenance


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنيزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ

## محمد اسمٰعيل دانش

د ۱۹۳۹ز کال د مارچ د مياشتي په ۷ نېټي په کابل کي ږپه يوې شيعه چنداولی کورنۍ کي زېږېدلی دئ. په ۱۹۵۷ز کال کي د حبيبيي له ليسي څخه فارغ سوی دئ. له ۱۹۵۸ تر ۱۹۶۰ز کال پوري د کابل پوهنتون د انجنيرۍ پوهنځي ته تللی دئ. په ۱۹۶۶ز کال کي ئې خپل ليسانس د لويديځي ويرجينيا له پوهنتون څخه د ماين په کيندنو کي تر لاسه کړ. په ۱۹۷۳ز کال کي ئې خپله ماستري په فزيک کي د مسکو له پيداګوژيکي انستيتيوت څخه تر لاسه کړه. په ۱۹۶۴ز کال کي د کانونو او صنايعو په وزارت کي د ماين کيندونو انجنير. د ۱۹۶۵ز کال د مارچ په مياشت کي د عسکري د مکلفيت دوري د تېرولو لپاره لاړ. په ۱۹۶۶ز کال کي د خلق ډيموکراتيک ګوند د مرکزي کميټي علی البدل غړی سو. په ۱۹۶۷ز کال کي ئې د صوف په دري کي د عمومي مدير د مرستيال په توګه کار وکړ. د ۱۹۶۸ز کال د مارچ په مياشت کي ئې د کابل د پوليتخنيک په انستيتيوت کي د فزيک د استاد په توګه کار وکړ. د ۱۹۷۴ز کال د مارچ په مياشت کي ئې د کابل د پوليتخنيک په انستيتيوت کي د فزيک تدريس وکړ. د ۱۹۷۸ز کال د اپريل په مياشت کي د کانونو او صنايعو وزير سو. دانش د حفيظ الله امين له پرځېدلو وروسته، د افغانستان د خلق ډيموکراتيک ګوند د پرچمي واکمنی په راتلو سره خپل کاري دريځ وساتهٔ. د مرکزي کميټي او د انقلابي شوری غړی. د ۱۹۸۱ز کال د جون له مياشتي نيولي د ۱۹۸۵ز کال د نوامبر تر مياشتي پوري د سياسي بيرو علی البدل غړی. د ۱۹۸۵ز کال په دسمبر کي د ليبيا سفير.

## نور بيا

## محمد سخي دانشجو

يو کابلی دئ. په ۱۹۵۷ز کال کي د کابل پوهنتون د حقوقو او سياسي علومو له...

قدرمنو لوستونکو! د بناعلي رحمت آريا د آرشيف: لينک


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بنې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکي په ځير و لولئ